د افغانستان اسلامي امارت
لوړو زده کړو وزارت
علمي معینیت
کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو ریاست
پوهنتونونو ته د اعتبار ورکولو آمریت

# د اعتبار سند ساتلو لارښود

۱٤۰٤

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنتون د اعتبارساتنې پروسه

### مقدمه

الحمدلله رب العالمین و الصلاة و السلام علی سید المرسلین محمد و علی آله و اصحابه اجمعین.

که له یوې خوا د پوهنتونونو لپاره بشپړ اعتبار ترلاسه کول یوه لویه لاسته راوړنه ده، خو په ورته وخت کې دا چاره د لوړو زده کړو وزارت د مهمو اهدافو له جملې څخه ګڼل کېږي. تول هغه پوهنتونونه چې بشپړ اعتبار یې ترلاسه کړی. نو د یوه معتبر پوهنتون په توګه د اعتبار ساتل، د اصولو رعایت، د پخوانیو سپارښتنو د تطبیق، د معیارونو د غوښتنو د تغېر په صورت کې د هغې د عملي کولو څخه اطمینان او په تولو برخو کې نوښتونه او مثبت بدلونونه رامنځته کول د معتبرو پوهنتونونو د مهمو مسؤلیتونو څخه شمېرل کېږي. نو په همدې اساس ویلی شو چې، د یو پوهنتون لپاره د اعتبار اخیستل او ساتل دوه مهم شرطونه بلل کېږي. که چېرته یو اعتبار لرونکی پوهنتون د اعتبار ساتلو شرایط په ښه توګه رعایت نه کړي، ممکن دا یې د اعتبار د ځنډ او لغوې سبب شي.

## لومړۍ برخه

## عمومیات

### ۱،۱. مبنی

یاد لارښود د رهبري شورا د ۱٤٤۷/۲/۵ نېټې (۱) ګڼې (۱۶) بند پرېکړې پر اساس، ترتیب شوی.

### ۱،۲. اهداف

۱. **د پوهنتون له کیفیت څخه په دوامداره توګه ډاډ ترلاسه کول:** د اعتبار ساتنې بهیر، د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست ته ډاډ ورکوي چې د تدریس کیفیت، د علمي کادرغړو وړتیاوې، د پوهنتون امکانات او اسانتیاوې، محصلینو ته د خدمتونو او نورو هغو مواردو وړاندې کول چې د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو په چوکاټ کې تعریف شوي دي، په دوامداره ډول ساتل کېږي.

۲. پوهنتون ته په مخکینیو راپورونو کې د ورکړل شویو وړاندیزونو له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول.

۳. **د معیارنو د بدلون په صورت کې له تطبیق څخه ډاډ ترلاسه کول:** د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو معیارونه د اړتیا له مخې تغېرېږي. د اعتبار ساتنې بهیر په تطبیق سره ډاډ ترلاسه کېږي، چې پوهنتون خپلې تګلارې، سیستمونه او کړنلارې د رامنځته شویو تغېراتو سره سمبجوړې او نویو شرایطو ته ځواب ویونکي دي.

Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

٤. **د دوامداره پرمختګ ارزونه**: د اعتبار ساتنې پروسه په پوهنتون کې د کیفیت په دوامداره بڼه والي کې مرسته کوي او د پوهنتون د اعتبارساتنې لپاره لارې چارې اسانه کوي.

۱.۳. اصطلاحات

۱. اعتبار ساتل: د هغو فعالیتونو او پروسو مجموعه ده، چې یو پوهنتون یې د کیفیت تضمین او اعتبار ورکولو معیارونو د دوامداره تطبیق لپاره ترسره کوي.

۲. اعتبار ورکول: هغه پروسه ده، چې د ټاکل شویو معیارونو پر اساس پوهنتون ته د ارزونې په پایله کې د اعتبار سند ورکول کېږي.

۱.٤. د نوم لندیز

۱. د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست: وروسته له دې په دې لارښود کې د ریاست په نوم یادېږي.

۱.٥. د تطبیق ساحه

د لوړو زده کړو وزارت اړوند ټول هغه پوهنتونونه چې بشپړ اعتبار ولري د اعتبار ساتنې د پروسې پیروي دي.

**دوهمه برخه**

**د اعتبارساتلو پروسه او نومرې**

۲,۱. **د اعتبار ساتنې نومرې**

د اعتبار ساتنې په پروسه کې بریالیتوب د اعتبار ورکولو له چوکاټ سره سم په لاندې توګه په پام کې نېول شوی:

۲,۱,۱. پوهنتون د اعتبار ساتنې په ارزونه کې لږ تر لږه ٪۸۵ **نومرې** د اعتبار ورکولو چوکاټ سره سمې ترلاسه کړي.

| شمېره | اصلي معیار | اصلي معیارونو ته ټاکل شوې سلنه | د اصلي معیارونو نومره | د درېیمې مرحلې لپاره د هر معیار ټاکل شوې سلنه | د درېیمې مرحلې د ټاکل شوې سلنې پر اساس د هر معیار اخېستل شوې سلنه | د درېیمې مرحلې د ټاکل شوې سلنې پر اساس د هر معیار |
|---|---|---|---|---|---|---|
| **پوهنتون د ټولو معیارونو لپاره د ټاکل شوې مجموعي سلنې تر څنګ چې ۸۵ سلنه ده، د هر معیار لپاره ټاکل شوې فیصدي هم ترلاسه کوي.** | | | | | | |

| | | | | | | اخیستل شوې نومره |
|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | لرلید، رسالت او ستراتیژیکه پلان جوړونه | 8% | 96 | 80% | 6.40% | 76.8 |
| 2 | د ټولنې په پرمختګ او د نظام د تګلارو په تطبیق کې د پوهنتون برخه اخیستل | 8% | 46 | 80% | 6.40% | 36.80 |
| 3 | رهبري او اداره | 7% | 48 | 80% | 5.60% | 38.40 |
| 4 | مالي سرچینې او د هغې مدیریت | 8% | 47 | 70% | 5.60% | 32.90 |
| 5 | علمي برنامې | 14% | 105 | 80% | 11.20% | 84.00 |
| 6 | څېړنه | 10% | 96 | 70% | 7.00% | 67.20 |
| 7 | استادان او کارکوونکي | 9% | 90 | 80% | 7.20% | 72.00 |
| 8 | د محصل تجربې | 8% | 91 | 80% | 6.40% | 72.80 |
| 9 | د کیفیت ښه والی او لوړول | 4% | 42 | 90% | 3.60% | 37.80 |
| 10 | کتابتون او معلوماتي سرچینې | 9% | 57 | 80% | 7.20% | 45.60 |
| 11 | زیربنا، تدریسي اسانتیاوې او معلوماتي تکنالوژي | 15% | 156 | 80% | 12.00% | 124.8 |
| د طب پوهنځي لرونکو پوهنتونونو لپاره لاندې سلنه ترلاسه کول هم اړینه ده | | | | | | |
| د طب پوهنځي د فرعي معیارونو (۱) شمېره مل پاڼې | | 15% | 242 | 180% | 12.00% | 193.6 |

**۲,۲. د لومړۍ دورې د بشپړ اعتبار ساتنې شرایط**

۲,۲,۱. هغه پوهنتون چې بشپړ اعتبار یې اخیستی وي، لازمه ده چې هر کال د خپلو فعالیتونو او معیارونو د تطبیق راپور ریاست ته واستوي.

۲,۲,۲. ریاست د پوهنتون د اعتبار ساتلو ارزونه د پنځو کلونو په موده کې دوه ځله تر سره کېږي.

۲,۲,۳. هغه پوهنتون چې د اعتبار ساتنې په ارزونه کې د بریالیتوب فیصدي پوره نه کړي، د دویم ځل ارزونې لپاره یو کال مهلت ورکول کېږي.

۲,۲,۴. که پوهنتون په دوه ځله پرله پسې ارزونه کې اعتبار و نه ساتي، د اعتبار سند یې لغوه کېږي.

and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۲،۲،۵ هغه پوهنتون چې د اعتبار سند یې لغوه شوی وي، یو کال وروسته بیا د اعتبار اخیستلو د شرایطو په پوره کولو سره ځان کاندیدولای شي.

۲،۲،۶. که یو پوهنتون د اعتبار ساتلو په لومړي ځل ارزونه کې د هر معیار لپاره د ټاکلې شوې فیصدي څخه حداقل ۱۰ سلنه زیات پرمختګ کړی وي ، ریاست به یې په پینځو کلونو کې له دوه ځلې څخه کم د اعتبار ساتلو ارزونه ترسره کوي.

### ۲،۳. د دوهم ځل اعتبار اخېستونکو پوهنتونونو لپاره د اعتبار ساتنې شر ایط.

هغه پوهنتونونه چې په دویمه دوره کې یې(۷ کلن) اعتبار ترلاسه کړی وي ، د اعتبار ساتنې پروسه یې په لاندې ډول تر سره کېږي.

۲،۳،۱. ریاست د پوهنتون د اعتبار ساتلو ارزونه د اوو کلونو په موده کې درې ځله تر سره کوي.

۲،۳،۲. که یو پوهنتون د اعتبار ساتنې په ارزونه کې د بریالیتوب فیصدي پوره نه کړي، د دویم ځل ارزونې لپاره یو کال مهلت ورکول کېږي.

۲،۳،۳. که یو پوهنتون د اعتبار ساتنې په ارزونه کې دوه ځلې پرله پسې د بریالیتوب فیصدي ترلاسه نه کړي، د اعتبار سند یې لغوه کېږي.

۲،۳،۴ هغه پوهنتون چې د اعتبار سند یې لغوه شوی وي، یو کال وروسته د اعتبار اخیستلو د شرایطو په پوره کولو سره ځان کاندیدولای شي.

۲،۳،۵. که پوهنتون د اعتبار ساتلو په لومړي ځل ارزونه کې د هر معیار لپاره د ټاکل شوې غوښتنې څخه حداقل ۱۰ سلنه زیات پرمختګ وکړي، ریاست به یې په اوو کلونو کې له درې ځلې څخه کم د اعتبار ساتلو ارزونه ترسره کوي.

### ۲،۴. د دایمي اعتبار اخېستونکو پوهنتونونو لپاره د اعتبار ساتنې شر ایط.

هغه پوهنتونونه چې دایمي اعتبار لرونکي دي، د اعتبار ساتنې پروسه یې په لاندې ډول تر سره کېږي.

۲،۴،۱. هغه پوهنتون چې دایمي اعتبار لري، د ریاست له خوا هرو درې کلونو کې یو ځل ارزول کېږي.

۲،۴،۲. هغه پوهنتون چې دایمي اعتبار لري، که په ارزونه کې د بریالیتوب فیصدي ترلاسه نه کړي، د دویم ځل ارزونې لپاره یو کال مهلت ورکول کېږي.

۲،۴،۳. هغه پوهنتون چې دایمي اعتبار لري، که په دوه ځله پرله پسې ارزونه کې د بریالیتوب فیصدي ترلاسه نه کړي، د اعتبار سند یې د یو کال لپاره ځنډول کېږي.

Directorate of Quality Assurance and Accreditation
MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

۲,۴,۴. هغه پوهنتون چې اعتبار یې د یو کال لپاره ځنډول شوی وي، د یو کلن ځنډ وروسته یې ارزونه بیا ترسره کېږي. که د بریالیتوب فیصدي ترلاسه کړي، نو د اعتبار سند یې د دوهم ځل لپاره ورکول کېږي.

۲,۴,۵. هغه پوهنتون چې اعتبار یې د یو کال لپاره ځنډول شوی وي، د یو کلن ځنډ وروسته یې ارزونه بیا ترسره کېږي. که د بریالیتوب فیصدي ترلاسه نه کړي، د اعتبار سند یې لغوه کېږي.

## دریمه برخه

## د اعتبارساتلو د ارزونې پلاوی او موده

### ۳,۱. د اعتبارساتنې د ارزونکي پلاوي جوړښت

۳,۱,۱. د ارزونې پلاوی د ریاست لهخوا وړاندیز او د بورډ له لوري تائیدیږي.

۳,۱,۲. که د بورډ له لوري د تائید شوي پلاوي کوم غړی د ارزونې لپاره حاضر نه وي، ریاست کولی شي د هغه پر ځای بل شخص وټاکي.

۳,۱,۳. د ارزونې پلاوی حداقل څلور(۴) تنه او حداکثر یې د پوهنتون جوړښت ته په کتو ټاکل کېږي.

۳,۱,۴. د ریاست استازي د ارزونې پر مهال د ارزونکي پلاوي له جملې څخه ګڼل کېږي.

### ۳,۲. د اعتبار ساتلو د ارزونې موده

د ارزونې او راپور لیکلو موده د پوهنتون جوړښت او د کارونو زیاتوالي ته په پام سره ټاکل کېږي.

۳,۲,۱. د ارزونې لږه موده څلور (۴) ورځې او ډېره موده یې د پوهنتون جوړښت ته په کتو ټاکل کېږي.

۳,۲,۲. د راپور لیکل حداقل په دوه(۲) ورځو کې او حداکثر یې د پوهنتون جوړښت ته په کتو سره چمتو او ریاست ته سپارل کېږي.

۳,۲,۳. په پورته ذکر شوو(۱ او ۲) مواردو کې ولایاتو ته د تګ راتګ ورځې نه شاملېږي.

### ۳,۳. د اعتبار ساتنې پروسې اجنډا

۳,۳,۱. د پوهنتون له رهبری(رئیس او مرستیالان)، استادانو، کارکوونکو او محصلینو سره د پوهنتون د ارزونې لومړۍ ناستې، د پوهنتون ارزونه او د پوهنتون له رهبرۍ سره پای غونډه.

دغه لارښود په درې فصلونو او دولسو مواردو کې ترتیب شوی دی، چې د منظورۍ د نېټې څخه وروسته د تطبیق وړ دی.

وزارت تحصیلات عالی ... Quality Assurance and Accreditation ... MINISTRY OF HIGHER EDUCATION

د اعتبار سند ساتلو لارښود د تضمین کیفیت او اعتبار ورکولو ریاست د بورډ له لوري په (۱۲) گڼه، ۱۴۰۴/۵/۲۹ نېټې پرېکړې، د علمي معینیت له لوري په (۲) گڼه، ۱۴۴۷/۲/۲۷ نېټې پرېکړې او د لوړو زده کړو وزارت د رهبرۍ شورا په (۳) گڼه، ۱۴۴۷/۷/۷ نېټې پرېکړې له مخې تایید شوی دی. یاد لارښود په امارتي او خصوصي پوهنتونونو کې د تطبیق وړ دی.